پوهندوی آصف بهاند

# افغانستان ته د ډنمارک د «DR news» ژورنالستانو سفر

## او د قلملار تولنې په باب د یو مستند فلم خبره

ډنمارکۍ ژورنالسته

پوک دامسګارد اندرسن

(Puk Damsgård Andersen)



د ۲۰۲۱ کال د اګست میاشتې په اوږدو کې چې په افغانستان کې کوم سیاسي ـ نظامي بدلونونه رامنځته کېدل، په هماغه وخت کې د ډنمارک د شاهي هېواد د ډي ـ ار نیوز (DR news) تلويزيون تکړه ژورنالسته پوک دامسګارد اندرسن (*Puk Damsgård Andersen*) هم له خپل ټیم سره په افغانستان کې وه او هلته یې څو ولایتونو ته سفرونه هم کړي دي. دلته به د دې ژورنالستې د سفرونو لنډ رپوټ او په کندهار ولایت کې د معارف د ترويج او نوي نسل د روزلو د یوې مهمې ټولنې (قلملار ټولنه) له مسؤل ښاغلي مطیع الله ویسا سره لیدنه او د دې ټولنې په باب د یوه مستند فلم خبره وڅېړم، خو لومړی د مشهورې ډنمارکۍ ژونالستې پوک دامسګارد اندرسن (*Puk Damsgård Andersen*) پېژندنه:

د ډنمارک د تلويزيون «DR news» ژورنالسته Puk damasgard لنډه بیوګرافي:

پوک دامسګارد اندرسن (Puk Damsgård Andersen) یوه ډنمارکۍ ژورنالسته او لیکواله ده. دا ډنمارکۍ ژورنالسته او لیکواله د ۱۹۷۸ ام کال د سپتمبر میاشتې پر اتلسمه (۱۸) نېټه زېږېدلې ده. لومړي یې د ۱۹۹۹ ـ ۲۰۰۱ کلونو په واټن کې درې کاله د تمثیل په برخه کې زدکړې وکړې، بیا یې په ۲۰۰۷ ام کال کې د ډنمارک په فون جزیره کې د «Syddansk Universitet i Odense» څخه د ژونالیزم په

ځانګه کې لیسانس سند ترلاسه کړ. په یوه ازاد پوهنتون کې یې د عربي ژبې او د منځني ختیځ د مطالعاتو په برخه کې زدکړې وکړې.

یو ځل یې د یو ماموریت په ترځ کې څه موده نړیوال سفرونه پیل کړل او د افریقا له کیپټون څخه یې استرالیا ته رپوټونه ورکول.

تر فراغت وروسته د یولند پوستین (Jyllands-Posten) په نامه د ډنمارک یوه سهارنۍ ورځپاڼه کې یې د ښوونې او روزنې په برخه کې کار پیل کړ، خو وروسته ترڅو میاشتو مستعفي شوه.

هغه له ۲۰۰۸ ام کال نه راپه دېخوا په منځني ختیځ کې ژوند کوي، لومړی په بېروت او له ۲۰۱۳ام کال راپه دېخوا د مصر په قاهره کې ژوند کوي. د ځو نړیوالو ورځپاڼو له پاره کار کوي او د یوې ازادې خبریالې په توګه د:

ـ «دې ار» یا ډنمارک رادیو (DR)،

ـ یولند پوستین سهارنۍ ورځپاڼه (Jyllands-Posten og)،

ـ او د Kristeligt Dagblad ورځپاڼې له پاره کار کوي.

هغې په ۲۰۱۵ ام کال کې له سوریې نه د خپلو رپوټونو او د:

«دانیاله ایا ته سپوږمۍ وینې؟» (*Ser du månen, Daniel*)

په نامه خپل یوه کتاب  په پار د «Cavlingpris» په نامه یوه جایزه وګټله.

درانه لوستونکي کولای شي چې د پوک دامس ګارد اندرسن (Puk Damsgård Andersen) په باب له لاندني لینک څخه لا زیات معلومات ترلاسه کړي:

https://da.wikipedia.org/wiki/Puk_Damsg%C3%A5rd



ډنمارکۍ ژورنالسته او لیکواله پوک دامسګارد اندرسن

دا ډنمارکي ژورنالیسته په عربي ژبه ښه پوهېږي، له اسلامي قوانینو سره ځکه بلده ده چې په اسلامي هېوادونو کې د کار ښه اوږده مخینه لري. ښایي د همدغو امکاناتو له مخې یې افغانستان ته په داسې کړکېچنو حالاتو کې سفر ته زړه ښه کړی وي.

ډنمارکۍ ژورناسته (Puk damasgard) په ۲۰۰۴ ام کال کې هم افغانستان ته سفر کړی و، خو په هغو ورځو کې هم په کابل کې وه چې طالبانو د دویم ځل لپاره په افغانستان او کابل باندې د خپل واک د ټینګولو په هڅه کې و.

اغلې Puk damasgard له کابل څخه د ۲۰۲۱ ام کال د اګست په ۱۳ مه او د اګست په ۱۵ مه د دوو جلا رپوټونو په ترڅ کې د افغانستان  له کابل او مزار ښارونو نه د هغه وخت د حالاتو رپوټونه ورکړي دي:

دا ډنمارکۍ ژورنالسته د افغانستان ځینو ولایتونو ته هم سفرونه کړي دي لکه کابل، کندهار او مزارشریف. ما (آصف بهاند) یې د کابل او مزارشریف د سفرونو لنډ رپوټونه لیدلي او لوستلي دي او د کندهار د ښار د سفر په باب مې اورېدلي دي. دا یې افغانستان ته د سفرونو لنډ رپوټ دی:

«د ۲۰۲۱ ام کال د اګست دیارلسمه:

نن په افغانستان کې طالبانو په څو لویو ښارونو کې د پاملرنې وړ پرمختګونه کړي دي، دې جنګیالیو یوازې په یوه اونۍ کې د څو لویو ښارونو مرکزونه نیولي دي.

د طالبان په راتګ سره په زرګونه افغانان بېځایه او اواره شوي دي، خو پلازمینه تراوسه هم د دولت ترکنترول لاندې ده. له شمالي ولایتونو څخه ډېر خلک هله وتښتېدل چې طالبانو خپل کنترول ورباندې ټینګ کړ.

ډېره زورونکې ده چې د خلکو حالت ته وکتل شي، په تېره چې له ښځو سره په خبرو کولو کې د دوی له حاله څوک خبر شي. کله مې چې له دوو ښځو نه د حال پوښتنه وکړه، هغوی راته وویل چې زموږ زدکړې او په دولت کې د کار مخینه ښایي موږ ته خطر پېښ کړي.

د طالبانو بریالیتوب د بهرنیو ځواکونو د وتلو په پایله کې رامنځته شو.

ننۍ افغانستان له هغه افغانستان سره ډېر توپیر لري، کوم چې ما په لومړي ځل په ۲۰۰۴ ام کال کې لیدلی و. د خلکو له خبرو او له عیني حالت نه چې ما لیدل، له ورایه ښکارېدل چې تېري شل کلنې لاسته راوړنې د بربادېدو په حال کې دي...»



دامس گارد په کابل کې د ۲۰۲۱ ام کال د اګست ديارلسمه نېټه

دوې ورځې وروسته د ۲۰۲۱ ام کال پر پنځلسمه باندې د کابل حال داسې انځور کړی دی:

«د ۲۰۲۱ ام کال د اګست پنځلسمه:

د امريکايانو او لويديځ تر شل کلن حضور وروسته او د ميلياردونو ډالرو مصرف سره ـ سره طابانو يوازې په يوه اونۍ پر هرڅه باندې لاسبرى پيدا کړ.

د طالبانو پرمختګ هغه وخت ډېر ګړندی شو چې دا جوته شوه چې لويدځ هېوادونه خپل ځواکونه له افغانستان څخه باسي.

طالبان عدليې وزارت ته ننوتي دي، دولتي مامورينو ته يې ويلي دي چې خپلو کورونو ته ولاړ شي. ډېرى خلکو د تېښتې له پاره د پلازمېنې هوايي ډګر ته داسې مخه کړې لکه طوفان چې راغلی وي. په کابل کې د ډنمارک په سفارت کې ډنمارکی کارکوونکی د يکشنبې په شپه د کابل هوايی ډګر ته ورسول شول. په لنډ ډول چې وويل شي: راتلوکې د طالبان په لاس کې ده.

دامس ګار د افغانستان شمال ته هم سفر کړی دی او له مزارشريف ښار څخه يې ليدنه کړې ده:



دامس ګارد په مزارشريف ښار کې

دا هم دامس ګارد له مزارشريف څخه د رپوټ ورکولو په حال کې:




په افغانستان او کندهار کې د دې ډنمارکي ژورنالستانو د سفر او ماموریت پر نورو اړخونو باندې نه غږېږم، یوازې پر هغه څه باندې بحث کوم چې دوی په کندهار کې د قلملار ټولنې د فعالیتونو پورې اړوند له ښاغلي مطیع الله ویسا سره خبرې کړې دي او د قلملار ټولنې د فعالیتونو په باب یې د یو مستند فلم لومړني مواد ټول کړي دي.

د افغانستان د معارف او نوي نسل د روزلو په باب د قلملار ټولنې او مطیع الله ویسا بشري او انساني فعالیتونه له هېڅ چا پټ نه دي، ما د دوی د فعالیتونو په باب پخوا هم څو مقالې خپرې کړې دي او د هغو په ترڅ کې مې د دوی د هڅو تر څنګ خپل نظریات هم وړاندې کړې دي، خو اوس چې ډنمارکی ژورنالسته (دامس ګارد) هم ورغلې او په خپله یې له مطیع الله ویسا سره لیدلي دي او د دوی د فعالیتونو په باب یې د یوه مستند د جوړولو خبره هم کړې ده، زه به بیا هم د دې مقالې د لا غني کېدو په پار دلته د قلملار او ویسا صاحب او د دوی د همکارانو پر فعالیتونو باندې په لنډ ډول وغږېږم.

په داسې حال کې چې د افغانستان د پوهنې وزارت د معلوماتو له مخې، په ټول هېواد کې نژدې زر ښوونځي د ناامنیو له کبله تړل شوي، د هېواد په سوېلي ناامنه سیمو کې د ښوونځیو د بېرته پرانیستلو لپاره ځینو ځوانانو یو کمپاین پیل کړی دی.

د "قلملار" په نامه ددغه کمپاین موخه دا ده چې په نوي ۲۰۱۷ زیږدیز کال کې په ناامنه او سرحدي سیمو، په تېره بیا کندهار کې تړل شوي ښوونځي پرانیستل شي.

د "قلملار" ټولنې بنسټګر او مشر مطیع الله ویسا پر خواله رسنیو هم د دغه کمپاین فعالیتونه خپروي، وایي ډېره هڅه یې دا ده چې په سرحدي سیمو کې تړل شوي ښوونځي پرانیستل شي.

د ښوونځیو پرانیستلو لپاره دغه کمپاین د کندهار په سرحدي سپین بولدک کې د ښوونځیو، په تېره بیا د نجونو د ښوونځیو پرانیستل اړین ګڼي.

دغه رضاکاره ځوانان وایي، دوی غواړي نجونې زده کړه وکړي، کتاب او قلم وروسپېړي او په دې برخه کې باید د سیمې مشران، بانفوذه کسان او ځوانان مرسته او ګډون وکړي.




دغه ځوانان له سیمه ییزو خلکو سره غږېږي، دوی د ښوونځیو ساتلو او ښوونځیو ته د خپلو بچیانو استولو ته هڅوي.

قلملار لارویان اوس پر موټرسایکلونو کلي په کلي ګرځي او د ښوونځیو د بېرته پرانیستل کېدو شعارونه لېږدوي. دوی وایي، په ټول افغانستان کې یې کابو ۵۷ زره ټوکه کتابونه راغونډ کړي او تر لوستونکو پورې یې رسولي او دا لړۍ دوام لري.

د قلملار مسؤلین وایي، په تېرو شپږو کلونو کې په کور دننه او بهر مېشتو افغانانو څخه تر پنځوسو زرو ډېر کتابونه راټول او په سویل او سویل ختیزو ولایتونو کې یې اووه کتابتونونه جوړ کړي دي:

"لومړی کتابتون مې په خپل کور کې جوړ کړ غوښتل مې له خپل کوره یې پیل کړم موږ غواړو په ټولو ولایتونو کې کتابتونونه جوړ کړو او ځوانان وهڅو چې مطالعه وکړي".

دوی وایي، هوډ یې دا دی چې خپل کمپاین د افغانستان ۳۴ ولایتونو ته وغځوي او د مطالعې او ښوونځي لوستلو دود ته خلک ورمات کړي.

دغه ځوانان له سیمه ییزو خلکو سره غږېږي، دوی د ښوونځیو ساتلو او ښوونځیو ته د خپلو بچیانو استولو ته هڅوي.

ما آصف بهاند د خپلې یوې مقالې په ترڅ کې د قلملار ټولنې او مسؤلینو د فعالتونو په باب داسې لیکلي وو:

او دا دی زموږ د تعلیم او پوهې څپې مخ پر وړاندې درومي. زموږ د ټولنې په یو څه پوه قشر په دې ټینګار کړی او کوي یې چې د دې ټولنې او خلکوو د خلاصون لاره نه ټوپک دی او نه هم تاو تریخوال، له بد مرغیو نه یې د خلاصون یوازینۍ لار تعلیم دی. تر څو چې خلک، ځوانان، تنکي ځوانان کوچنیان او ماشومان د سواد زدکړې ، ښونځي، پوهنځي مطالعې او پوهې دایرې ته ور ننه نه باسو، با سواده او پوه یې نه کړو ، تعلیم یافته یې نه کړو، کتاب قلم او لیپټاپ په لاس کې ور نه کړو، موږ نه شو کولای هغوی او ځان له نړۍ اونړیوالالو سره سیال کړو، موږ نه شو کولای د هغوی په لیکه کې و درېږو، موږ نه شو

کولای چې د نوي ژوند او نوي وطن او نوي دنیا خبرې پر ژبه باندې راوړو او تکرار یې کړو. موږ هغه وخت دا کار کولای شو چې له نړیولو سره د سیالۍ بیرغ جګ کړو چې تعلیم ولرو، پوهه ولرو له نوې ژوند او نوې تکنالوژۍ سره آشنایي ولرو.

د هر نسل او هر عصر له پاره تعلیم اړین دی، داسې لکه د ژوندي پاتې کیدو له پاره د آکسیجن تنفس او زموږ په ټولنه کې د تعلیم له پاره د ویسا ورونو، قلملار ټولنې او په ځانګړې ډول د تعلیم او ښوونځیو او زدکړې له پاره د ګران مطیع الله ویسا (matiullah.wesa) هلې ځلې زما له پاره دومره د خوشالتیا وړ دي چې هیڅ یې تصور هم نه شم کولای.

د ده فعالیتونو ته په کتو سره په نړیواله کچه دی د تعلیم د عاملو په لار کې د نړۍ په تر ټولو ځوانو رهبرانو کې و شمیرل شو چې دا زموږ د خلکو، د افغانستان او زموږ د اوسني هغه ډلې روڼاندو له پاره د ویاړ او سر لوړۍ وړ دي چې له دې بد مرغیو د خلاصون اصلي لار په تعلیم کېویني، ویسا په خپلو دې فعالیتونو سره د افغانستان له پاره د ویاړونو یو هسک بیرغ دی.



قلملار ټولنه او د هغې مسؤل مطیع الله ویسا د وخت په تېرېدو سره غلی نه شو، د ستونزو سره د مخامخ کېدو په حالت کې مایوسه نه شو؛ نور هم ګړندی شو، خپل هدف ته د رسېدو له پاره یې هر ډول ناخوالو او زحمتونو ته اوږه ورکړه.

په اوسني وخت کې چې د نویو واکدارانو د پالیسۍ له مخې ډېری ښوونځي تړلي دي او په تېره د نجونو تر شپږم لوړ ټولګي بند دي، د نجونو د ښوونځیو د خلاصېدو له پاره یې د قلملار ټولنې او د هغو د رضاکارانو کار او تبلیغات نور هم جدي او ګړندي کړي دي. دلته به یې د کار د بېلګو څو نمونې راواخلم چې په دې تېرو څولندو ورځو کې ترسره کړي دي:

مطیع الله ویسا چې د افغانستان په ټولو ولایتونو کې د دې لپاره ګرځېدلی دی چې د علم رڼا تر هر کوره ورسوي او ترڅلي ښوونځي خلاص کړي؛ د نجونو د زدکړو او بندو ښوونځیو د پرانستلو په باب په خپلو ورستیو څرګندونو (۲۰۲۲/۰۹/۱۲) کې داسي ویلي دي:

«د نجونو ښوونځي د افغانانو غوښتنه او حق دی

زه دې یو کال کې تر سلو پوري ډېرو ولسوالیو ته ولاړم دزرګونو خلکو سره مو ولیدل دهر افغان همدا غوښتنه وه چې دنجونو ښوونځي دي خلاص سي.

حتی هلمند او کندهار کې ځینو خلکو راته وویل که دنجونوښوونځي خلاص نسي مونږ افغانستان پرېږدو یو بل هیواد ته دخپلولوڼو دزده کړو پخاطر مهاجرت کوو.

دپکتیا ولس په خپل سر دنجونو ښوونځیو خلاصول او بیا پرلپسي لاریونونه همدا ښکاره کوي چې خلک دنجونو ښوونځي غواړي دنجونوښوونځي یی سره کړښه ده.

د پکتیا ولس دغوښتني ملاتړ وکړئ دنجونو ښوونځي زمونږ اسلامي حق دی خامخا یې غواړو.»

#PenPathGirlsEduCampaign
#supportpaktia
#LetAfghanGirlLearn

یوه ورځ یې خپل غږ داسي جګ کړ:

«د نجونو تعلیم د ولس ږغ ،

ټول ولسونه همدا ږغ کوي چې د نجونو ښوونځي دي خلاص سي.

ولس وایي مونږ نه غواړو تیارو کې واسوو.

مونږ نه غواړو زمونږ دخویندو علاج ناریڼه یا هم پردي هیوادونو ته ته علاج لپاره ولاړسو.

مونږ نه غواړو خویندي مو په تیارو کې واوسي د خپل ځان او دین په اړه خبر ونه اوسي.

مونږ غواړو د تل لپاره د پردیو د غلامۍ ځان خلاص کړو.

مونږ غواړو د نورو نړۍ سره سیال ژوند ولرو.

د ټولو بدبختیو دخلاصون لاره زده کړه تعلیم دی.

نو د نجونو ښوونځي دي ژر تر ژره خلاص سي.»

د نجونو د ښوونځیو د پرانستل کېدو په باب یې یو ځل داسي ویلي وو:

«نوی تازه کمپاین ولس د نجونوښوونځي غواړي:

سروبي ولسوالی یولیري پرتي سیمي ته ولاړو هلته خلک په خپله سیمه کې د نجونو ، هلکانو لپاره ښوونځي غواړي.

دوی غوښتنه کوي د نجونو ښوونځي دي خلاص سي.

دوی ته دي ټول بشري حقوق ورکول سي.

په سيمه کې ورته سړک ، روغتون ، ښوونځي ، دڅښلو پاکي اوبه ، زراعت برخه خدمات غواړي.

دلته همداسي سيمه ده چي نه موټړ لاره لري نه بله په غرونو کې به په پښو مزل کوي د نجونو ښوونځي دي ژر تر ژره خلاص سي.»

د کندهار له ډنډ ولسوالۍ څخه يې د يو رپوټ په ترڅ کې داسي ويلي وو:

«کندهار ډنډ ولسوالي
د کلي او دښاره
د کوڅي او دغره نه
د زاړه او ځوان
د نر او ښځي
د هر افغان همدا هيله او غوښتنه ده چي موږ دنجونو ښوونځي غواړو ، تعليم غواړو.

قلم لار رضاکارانو سره د ۱۴ کلونه څو ځله د افغانستان ټولو ولايتونو ۳۳۰ زياتو ولسواليو ته تللی يم هر کس همدا غوښتنه کوي چې موږسره تعليمي برخو کې مرسته وکړئ.

ټولو افغانانو ته دا مالومه سوېده چي زموږ دابادۍ جوړښت لاره تعليم دی ځکه خو هر افغان نن همدا غوښتنه کوي چي د نجونو ښوونځي خلاص سي ترڅو نور موږ دپرديو داحتياج نه خلاص سو.»

**#PenPathGirlsEduCampaign**
**#supportpaktia**
**#LetAfghanGirlLearn**
**#PenPathKandahar**

مطيع الله ويسا په خپل يو پيام کې داشي ويلي دي:

«ولي موږ د تعليم او نجونو تعليم خبره کوو؟

ميلونه افغانان مو پرديو هيوادنو کې مهاجر او در په در دي.

نړۍ مو په فساد ، جنګ ، ورور وژنه ، فقر ، قاچاقبرو سره پيژني.

زرګونو يتميان او کونډي هر کلي هر ښار کې لرو.

موږ د نړۍ پو پارسل اوړو او غوړو ته محتاج يو.

په ټوله نړۍ کې هېڅ هيواد ويزه نه راکوي.

اوبه لرو ، معدن لرو، پراخي دښتي لرو، ځوانان لرو، داسيا په زړه کې په مهمه لاره پراته يو.

خو نن بيا هم د نړۍ تر ټولو بدبخته غريب هيواد يو چي ډېر خلک مو اوس هم ماښام ډوډۍ نلري ډېر دهيواد نه دبو ګولي ډوډۍ پخاطر په قاچاقي لارو د سر په سواد هيواد پريږدي.

د ټولو بدبختيو د خلاصون لاره تعليم تعليم تعليم ده.

د تعليم عاملو لپاره لمړی شرط د نجونوتعليم او ښوونځي دي.

نو لطفا نن دا ښه چانس دلاسه مه ورکوئ افغانستان وژغورئ نجونو ته د زده کړو اجازه ورکړئ.
کومو سېمو کې چې کلونه ښوونځي نه و هلته ښوونځي جوړ کړئ.

ځان او وطن د نورو د احتياج نه خلاص کړئ هيواد په تعليم سره د نورو هيوادنو ولسونو سيال کړئ.
سبا به ټول ارمان کوئ.

نن د افغانانو غوښتنه ومنئ د نجونو ښوونځي ورته خلاص کړئ؟»

دغه راز د قلملار ټولنې مشر مطيع الله ويسا د بي بي سي له مشهورې خبريالې ليزه وسيت سره په خبرو کې د قلملار ټولنې د پروګرامونو او موخو په باب *داسې* ويلي دي:

«د بي بي سي انګليسي څانګې نړېواله خبرياله اغلې لاېزډوسيLyse Doucet

د اغلې لايزډوسي سره مو د قلم لار په فعاليتونو ، کارونو مسلسل مجلس وکړو.

قلم لار مونږ ته يو ارزښت او د پلار لاره وه څکه مو همداسې دومداره خپل کار ته ادامه ورکړه. د مشکلاتو، چلېنجونو سره ځو ځو واري مخ سو خو مونږ ويل د افغانستان د آبادئ لاره زده کړه پوهه ده.

مونږ زرګونه يتيمان لرو ، کونډي لرو، بيوزله لرو، معلولېن لرو، زرګونه مهاجرلرو ، چې ددي ټولو لپاره بايد داسي کار وسي چې ټولو ته دژوند سهولتونه برابرسي.

مونږ اوبه لرو، معدنونه لرو، ځنګلونه لرو ، ښه موقعيت لرو، يو غني هيواد لرو خو بيا هم زمونږ زرګونه خلک ماښام ډوډئ نلري

ددي ټولو مشکلاتو دخلاصون لاره پوهه زده کړه ده چې هر افغان نجلۍ هلک زده کړه وکړي مونږ همدا هيواد د پوهي په برکت بيرته ودان کړو.

د زده کړو د عامولو لپاره مونږ کلونه کلونه رضاکار بدون له کومه مادي امتېازه کار وکړو مشکلات مو په ځان يوورل بيا بې هم وړو هر ډول قرباني ته اماده يو خو چې فقط افغان زده کړه وکړي دا هيواد اينده ته يو ودان اباد وطن په ميراث پرېږدو

په کليو کې مونږ ډيرښه استعدادونه لرو خو جګړي زمونږ مېلونه ماشومان د زده کړو محروم کړو.

نن بيا همدا وخت دی چې کور په کور وګرځو دپوهي پيغام هر افغان ته ورسوو.

قلم لار نن يو قوي کاروان دی چې هره ورځ يوه لاسته راوړنه لري همدا کاروان د افغانانو جوړ دي افغان فکر دی د افغانانو مرسته ده څکه خو لسګونه لاسته راوړني لرو.

دا خاوره به افغانان په خپله په خپل فکر خپله پوهه ابادوي څکه خو مونږ مادي امتېازونو پردېو مرستو ته ترجيع ورنکړه.

په رضاکارې او افغان همت مو باور وکړو نن بريالي هم يو.

اغلې لايزډوسي اصلا د کاناډا او تر درو لسېزو ډير بې افغانستان کې کار کړيدی او د افغانانو په کلتور بلده ده.

خدای دي افغانانو ته همت ورکړي چې مونږ هر يو پوهه حاصله کړو همدا وطن داسي اباد کړو چې بهرنېان ورته د کار لپاره راسي.

د جګړي په ځای قلم کتاب ته مخه کړو.



ډنمارکۍ ژونالستي (دامسګارد اندرسن) له خپل ټیم سره په افغانستان کي د خپلو سفرونو په لړ کي کندهار ته هم سفر کړی دی او هلته یې د قلملار ټولني له مشر ښاغلي مطیع الله ویسا سره لیدلي دي.



ډنماکۍ ژورنالسته دامسګارد اندرسن له مطیع الله ویسا سره په کندهار کي

مطیع الله ویسا دې ژونالستانو ته د خپلو فعایتونو په باب هر اړخیز معلومات وړاندې کړي دي، کومې خبرې چې مطیع الله ویسا یادو ډنمارکیانو ته کړې دي، خلاصه یې د ۲۰۲۲ ام کال د سپتمبر پر اولسمه نېټه په خپله فیسبکپاڼه داسې لیکلې ده:

«کندهار کې د ډنمارکي ژورنالیستانو سره:

اغلېPuk damasgard د ډنمارک ټلوېزوېون خبریاله او د نړۍ مشهوره لیکواله ورسره د دوی تکړه پوټوګرافر ښاغلی Mads دوی کندهار ته راغلي وو چي د نورو موضوعاتو ترڅنګ د قلم لار (PenPath) په کارونو ډاکومنټري جوړه کړي.

د قلم لار د مختلفو برخو پې د ډاکمنټرۍ او فلم لپاره ویډیوګاني واخیستي او خپله پې ټول کارونه ولیدل. د ډاکمنټري لپاره ورسره د قلم لار په مختلفو فعالیتونو وړ.غبېدم.

ولې بهر ته نه لاړې؟

کوم ستونزو سره مخ پاست؟

ولې مو دا لاره وټاکله؟

داسي رقم ـ رقم پوښتني مو ورته جواب کړې.

ما په اسانۍ سره کولی سوو هر هیواد ته ولاړ سم بیخي تر دولسو هیودانو پوري راته سل فیصده چانس مخکې هم و اوس هم سته خو هرڅوک خپل انتخاب لري ما دا غوره وبلله چې په داسي وختونو کې د افغان ماشومانو لپاره کار وکړم.

یو ما ته هاغه سیمي وې چې شل کلونه هلته ښوونځي د جګړي له امله نه وو مګرنن هلته جګړه نسته په اسانه کولی سو هلته ښوونځي جوړ کړو چي تردېره په خپلو شخصي امکاناتو بریالي هم یو زرهاوو ماشومانو ته مودي لنډ وخت کې د زده کړو زمینه برابره کړیده.

هر هیواد خپلو خلکو جوړ کړېدې مونږ د هیواد جوړوني لاره تعلیم بولو ځکه مو ښه وبلله د تعلیم لپاره تر وسه چې اجازه د کار راکول کېږي کار وکړم.

دا لاره مو د پلار لاره وه د هاغه وصیت وو ځکه مو انتخاب کړه د خپل پلار هیله ارمان چې هر افغان بچی نجلی هلک ښوونځي ولري پوره کړم.

زه نه غواړم ستونزي ووایم ځکه که نورځوانان خبرسي بیا به زما لاره انتخاب نکړي قلم لار یوه مبارزه ده مبارزه په بدو حالاتو کې د مشکلاتو سره مبارزه کول دي که ستونزي ووایم کتابونه به پري ډک سي ښه دی مثبت اړخ ته ولاړ سو لاسته راوړني ووایواوکار وکړو.

په ډېرو مهمومموضوعاتو مو سره مرکه وکړه چې ټول پې دلته نه لیکل کیږ.ي.

اغلی پوک دري مشهور کتابونه لیکلي دي چې په یو کتاب پې بیا امریکا کې فلم جوړسویدی.

د کندهار په عموم کې د افغانانو د میلمه پالني خوښ سول دا مو د مرکو سفرونو وروسته اخرنی عکس کندهار کې وو چې دوه دواړه همکاران راسره عکس کې دي.

د افغانستان کلتور تاریخ او میلمه پالني په اړه مو ډیر مالومات ورکړل.

#PenPathKandahar
#PenPathGirlsEduCampaign
#Kandahar #Afghanistan #jornalist



دامسگارد او ډنمارکی همکار یې له مطیع الله ویسا سره په کندهار کې

د ښاغلي مطیع الله ویسا د خبرو له مخې دې ژورنالستې (Puk Damsgård) غوښتل چې د قلملارټولنې پر فعالیتونو یو مستند فلم جوړ کړي او د فلم لومړني مواد او اسناد یې یې ټول کړي هم دي، اوس به مو ټول دې ته سترګې پر لاره یو چې د یادې ژورنالستې دا مستند فلم کله او چېرې خپرېږي.